# حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: رَدُّ السَّلَامِ، وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ، وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ، وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ». "د يو مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه دي: سلام ته ځواب ويیل، د ناروغ پوښتنه کول، د جنازې پسې تلل، بلنه منل، او د پرنجي پر مهال ورته (يرحمک الله) ويیل

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه اوريدلي دي چې ويل يې: «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: رَدُّ السَّلَامِ، وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ، وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ، وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ». "د يو مسلمان پر بل مسلمان پنځه حقونه دي: سلام ته ځواب ويیل، د ناروغ پوښتنه کول، د جنازې پسې تلل، بلنه منل، او د پرنجي پر مهال ورته (يرحمک الله) ويیل".

[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو مسلمان په خپل مسلمان ورور باندې ځينې حقونه بيان کړي دي. له دغو حقونو څخه يې لومړی دا دی چې سلام ور وګرځوې چا ته چې سلام درته واچوي. دويم حق: د مريض پوښتنه کول او زيارت ته يې ورتلل. دريم حق: جنازې پسې يې له کوره تر هديرې پورې تلل تر دې چې دفن شي. څلورم حق: د بلنې منل کله چې بلنه ورکړي لکه د واده وليمې او يا داسې نورو ته. پنځم حق: پرنجي کوونکي ته ځواب ويیل: داسې چې هغه کله د پرنجې پر مهال الحمد لله ووايي نو ورته ووايي چې: يرحمک الله (الله دې پر تا رحم وکړي) بيا به پرنجی کوونکی ووايي: يهديکم الله و يصلح بالکم (الله تعالی دې تاسو ته هدايت وکړي او ستاسو حال دې سم کړي).

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3706

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee